مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: سمسور ودان

۲۰۲۳/۱۱/۰۹

# د ادیب پټ اړخ

ارنسټ هیمنګوی د نوبل جایزې ګټونکی امریکایی ناول لیکونکی و، چې په ښې کیسې لیکنې کې یې لاس بر و.
ډیری خلک او نقادان په دې باور دي چې هیمنګوی یو تکړه او باوري لیکوال و او د خپلي زړورتیا له امله مشهور و.

خو کوم لیکونه چې هغه خپلې نیږدې ملګرې (ممثلې او سندرمارې) مارلین ډیټریچ ته لیکلي و؛ خطرناک، احساساتي او ځپلی اړخ یې هم پکې راښکاره شو. دغه لیکونه چې شمیر یې ۳۰ ته رسېده د ۱۹۴۹ ـــ ۱۹۵۹ کلونو ترمنځ لیکل شوي.

په یو لیک کې مارلین ته وايي: "زه نه شم ویلی، چې هر ځل درنه لاسونه تاو کړم نو څنګه احساس کوم؟! داسي لکه په خپل کور کې چې یم. موږ سره به ډیر څه نه و، خو تل به خوشحاله وو او ټوکې ټکالې به مو کولای".
یو بل ځای بیا لیکي:

"ګراني مارلین! زه تل درسره مینه لرم، ستا ستاینه کوم او هر ډول احساسات درته لرم. نو هیله لرم پوه شې! دا چې زه تل له تا سره مینه لرم او کله ناکله دې هیروم لکه څنګه چې زه د خپل زړه ټکان هیروم. خو په هغه ټکان کې هم ته یې".


همینګوی پورتنی خط د (زوړ سړی او سیند) ناول تر ختمېدلو دوه میاشتې وروسته په ۱۲/۸/۱۹۵۲ لیکلی.

دواړو د لومړي ځل له پاره ۱۹۳۴م کال کې هغه مهال سره ولیدل، کله چې مارلین له نازي جرمني نه او همینګوی له افریقا نه خپلې دوهمې ښځې (پاولین پفیفر) سره هالیووډ ته راستنېدل.

له دې کتنې وروسته همینګوی ښکلې مارلین ته لیکونه پیل کړل او تر هغو یې دوام وکړ، تر څو چې لیکوال په ۱۹۶۱ کې ځان وواژه.

د دوی د اړیکې خوړلنتیا او درد په دې کې هم و چې تر پایه یې سره واده ونکړ او کله هم د ګډ پریوتلو چانس په لاس ورنغی.

ساندرا سپینیر چې د همینګوی د لیکنو مدیر و، وايي: دوی دواړه پوهېدل چې د عمرونو توپیر او د وخت فاصلې به یې کله هم یوځای کېدلو ته پرېنږدي، ځکه خو تر پایه سره ملګري وو او یوه زړه راښکوونکې اړیکه یې دزلوده.
خلاصه دا چې لیکوالان تل خپل کمزوری او احساساتي اړخ له خلکو پټوي، ځیرک هغه دی چې د لیکوال له کرښو یې درک کړي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ